# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com     afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



انجنیرسیدعبدالقادر

۰۲ مرچ ۲۰۱۴

## دلوبي له پاره لوبه !
## ۲

لومړي برخه : دامنيتي تړون دنه لاس ليک په اړوند يوه کتنه :
دوهمه برخه : دامنيتي تړون تراحتمالي لاس ليک وروسته دافغان ولس برخه ليک :




مخکي تر دې چې پردوهمه برخه باندي څه وليکو ، لازمه ده ووايو چې ، امنيتي تړون دهيوادونو تر منځ هغه وخت مشروعيت او قانونيت پيدا کولايسي چې ،دواړه هيوادونه آزاد ، مستقل او يو دبل تر سياسي ، نظامی ، او اقتصادي استعماري اغيزي لاندي نه وي ۰ په هغه صورت کي بيا ددغسي امنيتي ، ستراتيژيکي تړونونو پر محتوا باندي ددولت مشر تابه دخپل ولس سره تر صلاح مشورو وروسته دمتقابل احترام د اصل په نظر کي نيولو سره د بل هيواد دمشرتابه سره لاس ليک کوي ۰ چې په دې حالت کي دولس ګټي ساتل سوي او په راتلوونکو کي دکومو ستونځو سره نه مخامخ کيږي ۰ ولي متأسفانه افغان ولس په اوس مهال کي دامريکا تر رهبري لاندي دغربي نړي د۲۱ مى پيړي تر نوی استعماري يرغل لاندي خپلي شپي او ورځی تيروي ، او عامه ذهنيت داشغالګرو تر انحصار لاندي راغلی ، او دهغوي ريښتيني غوښتني دبهرنيو او کورنيو رسنيو پر مخ په تحريف سوي بڼه منعکس کيږي ۰ ځکه نو داسي تړونونه نه يوازي افغان ولس ته کوم مشروعيت نه لري بلکه دنړيوالو قبول سوي منشورسره هم په ښکاره تقابل کي قرار لري ۰ ديادولو وړ خبره داده چې، د امريکا داستعماري ځواک سره دامنيتي تړون پلويان هغه کسان او کوچني ډلي دي ، چې يا يي دهغوي سره په دې وطن پلورلو کي ګټي نغښتي دي ، او يا داشغالګرو په سياسي او اقتصادي

مخو باندي لا تر اوسه هم نه دي پوهيدلي ۰ او دوي داسي ادعا کوي چی د افغان ولس د امن له پاره باید افغان مشرتابه دنړي دداسي یو لوي ځواک سره امنيتي تړون لاس لیک کړي ، او که نه دافغانستان حریم به دګاونډو هیوادونو تر یرغل او استعماري ولکي لاندي راسي ۰ په داسي حال کي چی دوي بیا پر اوسني اشغال باندي دخپلو ګټو له پاره سترګي پټوي ۰ددې ډلو دڅرګندونو تر شا نوري پټي مخي شتون لري ، هغه دادي چی دامریکا سره دامنیتي تړون لاس لیک به دغو بشري او اقتصادي جنایتکارانو ته دتیرو نیژدي دیارلس کلونو په څیر وخت ورکړي ، چی نه یوازي ددوي پر تیرو بشري او اقتصادي جنایاتوباندي پرده وغوړول سي ،او قضایي خوندیتوب (مصونیت) ورکړي ، بلکه د دوي پر مخ باندي به دنورو نوو اقتصادي جنایاتو د تر سره کولو له پاره هم لاره خلاصه ، او اشغالګرو ته به هم نه یوازي دافغان ملي شتمنیو لویه برخه رسیدلي وی بلکه په منطقه کي به د اهرمي قدرت په څیرپر هغو نفتي زیرمو باندي به هم خپل کنترول راولي ، کوم چی په راتلونکو وختونو کي هند ، چین او روسیه غواړي استفاده ځیني وکړي ۰ ډیره عجبه خبره خو داده ، چی دشوروي تر اشغال وروسته بیا هم دغوړیرو رو بشري جنایتکارانو په پاکستان کي فتواوي صادره ولي ، چی دډاکټر نجیب الله دصلح دپلان په وړاندي نوره هم باید جګړه وسي ، او دري کاله یي نور هم افغان دافغان سره په جنګ واچوي ۰ څو وي کړایسواي چی دبهرنیو استخباراتو په ځانګړي توګه دروسيي په مستقیمه مرسته او لارښوونه حاکمیت تر لاسه ،افغان وسله وال پوځ یي د ( دپاکستان د آي اس آي ) په مشوره منحل کړي ، چی په پایله کي ولس یی یرغمل ، ملي شتمني یی چور او هیواد یي د منطقي او غربي نړي توطیو او استعمار ي اشغال ته آماده کړ۰ ولي نن بیا دا جنایتکاران د امریکایي استعماري اشغال ادامه غواړي ۰

– ددوهمی برخی په اړوند دنظر څو ټکي : په امنیتي تړون کي دامریکا دچاړواکوهغه وعدي چی هیڅ ډول اجرائیوي تضمین نه پکښي لیدل کیږي ، دابه هم دتیرو دولسو کلونودوعدو په څیر یوازي او یوازي دکاغذ پر مخ پاته وي ۰ داځکه چی په مستعمره هیوادونوکي د استعماري هیوادونوستراتیژیکي مخي آبادي نه، بلکه بربادي او دملی شتمنیو چورول وي ۰په دي اړوند به دلته څو لنډي بیلګي دتیرو دولسو کلونو او راتلونکو لسو کلونو له پاره رانقل کړو :

– په پوځي عرصه کي : داشغال په تیرو دولسو کلونو کي لاس پوځي حاکمیت په کور دننه کي د ولس د اقتصادي ستونځو څخه په ناوړه استفاده وکړایسواي چی دوسله وال پوځ شمیر ( ۳۵۰۰۰۰) ته ورسوي ۰ ولي د کیفیت او پوځی سقیلو تجهیزاتود نشتوالي له پلوه شاید په نړي کښي دوسله وال پوځ بله داسي بیلګه په دونه ډیر کمیت او ټیټ کیفیت شتون ونه لري ۰ ددي پر ځاي چی غربی نړی دخپلو وعدو سره سم یو مسلکي افغان وسله وال پوځ جوړ کړي وای ، دوی د حربي ښونځی ، مځکني او هوایي پوځي پوهنتونونو دروازی دجهادي جنایتکارانو دحاکمیت دکلونو په څیرپر افغاني زامنو بندي وساتلي، او افغان وسله وال پوځ یي دهغه ملي روحیي څخه هم لیري وساتي، کوم چی تر ۱۹۹۲ کال پور ي هر افغان تر قانوني سن تر پوره کولو وروسته دمکلفیت عسکري دوره دخپل هیواد دساتني له پاره پاي ته رسول ۰ اوافغان وسله وال پوځ یي دبرق په څیر داسي سویچي جوړ کړي، چی که په سربازانو باندي ډالري معاش قطع سي ، په هغه ورځ باندي دا پوځ منحل کیدلایسی ۰استعماري ځواک په داسي حال کي تر امنیتي تړون وروسته دافغان وسله وال پوځ د تجهیز او تربیې د وعدو ناري وهي، چی دلاس انجلیس ورځپا نه د جنوري په لومړیو کي لیکي : چی امریکایان خپل هغه پوځي زرهپوښونه سوزوي او تخریب کوي یي کوم چی دهر زرهپوښ قیمت یو ملیون ډالره دي ، او په تخریب باندي یي بیا ۱۲۰۰۰ ډالره لګوي ۰ او افغان ځواک ته یي ځکه نه ورکوي چی وایي ، هغه د مغلقي تکنالوژي لرونکي دي ۰ او هم د اسوشیتد پرس ورځپاڼه نیژدي دري میاشتي مخکي لیکلي وه ، چی امریکا دخپلو قواوو دوتلو په درشل کي خپل وسایط ویجاړوي او وسپني یي خر څوي،

او داسي فکر کوي، چې دا به دمخالفینو ولاس ته ورشي ۰ شوروپانو بیا دامریکا برعکس د وتلو پروخت ډیري عصري پوځي سلاحوي او نور تجهیزات دبیلګي په ډول ، ټانکونه ، ثقیل توپونه ددي جملي نه ریا کتیفي راکیټي دستګاوي او اور غورځوونکي تاکتیکي راکیټونه، ترانسپورتي آلوتکي ، جنګي ، بم اچوونکي جیټ او ښکاري الوتکی اوو څنګ ته یي په ډیره اندازه مهمات هم پریښول ۰دشوروپانو تر اشغال وروسته افغان ولس دکمیت او کیفیت له کبله داسی یو مجهز وسله وال پوځ درلودی، چې په منطقه کښي یي بیلګه نه لیدل کیدل ۰ افغان وسله وال پوځ نه یوازي دمنطقي دهیوادونو له پاره بلکه دغربي نړي دهیوادونو له پاره هم د تحمل وړ نه وو ۰ ځکه نویه (۱۹۹۲) کال کی جهادي جنایتکارانودخپل حاکمیت په لومړي ورځو کی په ډیر جرأت افغان وسله وال پوځ منحل اعلان کړ،چې د دوي دا عمل دافغانستان په تاریخ کښی ستر ملي خیانت بلل سوی دی۰

ـ په اقتصادي عرصه کي : د غربی نړی هغه وعدي چې موږ به دافغان ولس اقتصاد جوړ او بیکاري به له منځه یوسو ۰دوي بر عکس دافغانستان اقتصاد وځینو بهرنیو او کورنیو مافیایي ډلوته په لاس کي ورکي ۰ اوولس ته یي په اقتصادي عرصه کښي داسي ضربه ورکړه ، چې دافغانستان اقتصادي تاریخ یي په خپلو پانو کي نه لري ۰چې د ازاد بازار او خصوصي سکتور دتقوي تر نامه لاندي دولس د ملي شتمنیو لویه برخه جنایتکارانو په ځان پوري وتړل ۰ دبیلګي په ډول : د ډاکټر نجیب الله دحاکمیت تر ړنګیدو پوري نیژدي (۸۷۰) تولیدي صنعتي ، ساختماني ، زراعتي ترانسپورتي تصدي ګاني دافغان دولت په تشکیل کي شتون درلودي ۰ متأسفانه چې نیژدي ۵۰ فیصده دا تصدی ګانی زورواکو جنایتکارانو په خپله ولکه کي راوستلي او نوري پاته یي ځیني دمنځه تلوپه حالت کي دي ،او ځینو ته یي بیا زور واکوو خپل ځانونه ورنیژدي کړي ،چې تر لاسه یي کړي ۰ځکه نو دې اقتصادي مافیایي ډلو دژر او ډیري ګټي ترلاسه کولو له پاره افغانستان په یو مصرفي هیواد باندي تبدیل کړي ،چې دوارداتو کچه یي په ۲۰۱۲ کال کي ( ۶۰۱۲ ) میلیونه ډالره او د صادراتو کچه یي ( ۳۷۰ ) میلیونه ډالره سوي ده ،په واقعیت کي یي افغانستان دمنطقي په مارکیټ باندي تبدیل کړي دي۰ چې دا د افغان ولس وژوند ته یو ه نه تلافي کیدونکي ضربه بلل کیدلایسي ۰ چې ددي مافیایي ډلود بي کیفیته اوتر وخت تیر وارداتي تو کو ( جنسونو) له کبله تیر کال د عامی روغتیا دوزارت د څرګندونو له مخي یواازي دکابل په ښار کي ( ۲۱۰۰ ) کسو خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړي دي ، چې دهیواد په سطح کي لس ګونو زرو ته رسیږی ، چې دا دبي کیفیتو نفتي موادواو تروخت تیر خوراکی توکو دواردولو پایله ده ۰او هم دارنګه په هیواد کي د بي کیفیتو نفتي موادو استعمال په اکثریت ښارونوو کي یي هوا سخته ککره کړي او خلګ یي دسختو ستونځو سره مخامخ کړي دي ۰ دبیلګي په ډول ،دکابل دښار د ایتمسفیر داکسیجن فیصدي یي دنورمال حالت ( ۲۰ اشاریه۶ ) فیصده څخه و ( ۱۶ اشاریه ۱ ) فیصد ته راټیته کړي ده ۰ که دوه فیصده نوره هم ټیټه سي خلګ به خپل دژوند عادي حالت دلاسه ورکړي ۰ چې ددي بشري او اقتصادي جنایاتو لومړي درجه مسؤولیت دمالیي او تجارت د وزارتونو او دتجارت دخوني ( اطاق تجارت ) په لوړ پوړو چارواکو پوري اړیکی پیدا کوي ، دا ځکه چې په دې جنایاتوکي دا چارواکي دلس هاوو او سل هاوو میلیونونو ډالرو خاوندان سوي دي ۰ تر اشغال وروسته ولس باید دا مسؤولین هم دنورو جنایکارانو په څیر د محکمي میز ته راکش کړي ۰ او نیژدي ( ۵ میلیونه ) هیکتاره دولتی زراعتي او مسکوني مځکه هم دي بهرنیو او کورنیو مافیایي ډلو تر لاسه کړي ، او هم یي په غیري قانوني ډول په مختلیفو ولایتونو کي دساختماني مقرراتو څخه په ښکاره سرلغړونه پردولتي مځکو دبهرنیو ځواکونو تر بیرغ لاندي په وچ زور ښارګوټي جوړ کړي ، پر افغان ولس یي پلوري او پیسي یي وبهرنیو بانکونو ته لیږي ۰لاس پوځي حاکمیت د ولس دتیر وتلو له پاره (۱۶ ) دفساد پر ضد ډول ډول اداري یي جوړي کړي ، چې دوي هم په خپل نوبت په فساد کي نغښتي دي ۰د لویي څارنوالي او ستري محکمي څخه داسي مؤسسات جوړ

سوي دي ،چې دنده يې يوازې  وجنايتکارانو ته د برائت سندونه او پاني جوړول دي  ۰ ځکه نو که امنيتي تړون لاس ليک سي ،داد جنا يتو ښځه ډکه لړي به نوره هم مخ ته روانه وي ۰

ــ دامنيتي تړون تر احتمالي لاس ليک وروسته دافغان ولس ژوند ته به دنورو ستونځو تر څنګ چا پيريال ککړتيا هم لويه ضربه ورکړي ، دا ځکه چې بهرني ځواکونو په تيرو دولسو کلونو کښي نه يوازې په لس ګونو زره بې ګناه افغانان په شهادت رسولي بلکه افغان چاپيريال ته يې هم لويه ضربه ورکړي ده ۰ د بيلګي په ډول : بهرنيو ځواکونو په ځانګړي توګه امريکايانو دهيواد په ځينو سيمو کښي يو رانيوم لرونکي بمبونه او نور منع سوي سلاح وي استعمال کړي ، چې د ا سلاح وي داتومي بمبونو اويا اتومي انرژي دپاتي شونو ښځه جوړي سوي دي ، او هم سپين پاسفورس لرونکي وسلي هم په کار لويدلي دي چې داکسيجن په موجوديت کي تر وروستي لحظي پوري سوځي ۰ چې دځينو مسلکي پوهانو له نظره ډيري خطر ناکي اغيزي يې په ځينو افغانانو کي پيدا کړي دي ۰ چې په دې هکله ځيني څيړني د کند ين يورانيوم ميديکل سنټر په نوم يوي مؤسسي کړي دي ۰ او هم دارنګه بهرنيو ځواکونو دوطن په ډيرو سيمو کښي شنه باغونه او ويالي خرابي کړي او دمنځه يې وړي دي۰ دبيلګي په ډول دغزني ولايت دسردي دبند په سيمه کښي ( ۴۰۰۰ ) ونې چې دولتي او شخصي ملکيت وو  له منځه وړي ،  چې کرزي هم په( ۲۵ ـ ۱۲ ـ ۲۰۱۱ ) نيټه باندي دا لوي جنايت وبلي ۰ او دامريکايي خپروني وا يرډ د ( ۲۱ ـ ۱۱ ـ ۲۰۱۱ ) په حواله دکندهار دارغنداب دولسوالي دتره کو کلي د ( ۲۵ ټنه ) بمبونو په ذريعه په ځو ثانيو کي له منځه يووړي ۰ چې دا دهيواد په سطح کي دزرګونو پيښو ښځه د چاپيريال دککړتيا او بشري جناياتوځو محدودي بيلګي وي ۰

ــ دامنيتي تړون تر لاس ليک وروسته دافغان ولس ژوند ته بل لوي ګواښ دمخدره موادو کښت دي ، چې د امريکايي يرغل په لومړي ورځو کي دنړيوالو رسنيو په حواله په هيواد کي د ( ۱۸۰ ) ټنه هيروينو شتون درلودي ۰ ولي په (۲۰۰۶) کال  کي د کوکنارو دکښت کچه داسي  پراخه سوي ،چې  کچه يې ( ۶۱۰۰ ) ټنو ته رسيدلي وه ، چې په اوس مهال کي دا کچه نوره هم ډيره سوي چې دنړي دمخدره موادو ( ۹۳ ) فيصده جوړوي ۰ او داسي معلوميږي چې دمخدره موادو کښت او قاچاق داشغالګرو دستراتيژي يوه برخه جوړوي ۰  چې په پايله کي  افغانستان دنړي دمخدره موادو دکښت له کبله په لومړي قطار کي و دروي ۰ د لاس پوڅي حاکميت دڅرګندونو له مخې په اوس مهال کې په هيواد کي په هيروينو اخته کسان ( ۱اشاريه ۶ ) ميليونو ته رسيږي ۰که امنيتي تړون لاس ليک سي شايد ددغو کسانو شميره دوه برا بره سي ۰ که دويتنام دتاريخ پاني راواړوو معلوميږي چې جنوبي ويتنام هم  دامريکا د ( ۱۹۶۴ ـ ۱۹۷۴ ) داشغال په کلونو کي د هم دا ډول جناياتو سره مخامخ وو، چې  د مخدره موادو دکښت له کبله په نړي کښي لوړ مقام ګټلي او ډير وګړي يې په مخدره موادو باندي اخته  وه  ۰  بايد ووايو چې افغانستان د  اشغال په دې کلونو کښي دونه بې خاونده سوي دي ، چې دبهرڅخه نه يوازې هر څوک بې له اجازي تګ او راتګ کولايسي ،د خلګو ژوند او چاپيريال د  ګواښ سره مخامخ کولايسي ، بلکه  دخپلي خوښي سره  سم هرڅه دځانه سره وړ اي هم سي ۰ دبيلګي په ډول : يوه مياشت مخکي تر( ۶۰ ډير ) عربي ، پاکستاني ، ښکله ديشي ښکارچيان په څلورو الوتکو کي د (۱۱ ) زغره وال موټرو سره راغلي او په غير قانوني ډول يې زموږ دهيواد ارزښتناکه مرغان اونور نادره دښتي حيوانات ښکارول، چې په غبرګون کي دفراه او هرات خلګو پر دولت نيوه کي وکړي ، چې دا خلګ دهيواده وباسي ۰ ولي دبهرنيو چارو دوزارت وياند په ډيره بې شرمانه ډول وويل چې موږ ددې خلګو درانګ ښځه خبر نه يو ۰

ــ داشغال په تيرو دولسو کلونو کي نه يوازې دافغان ولس دفرهنګ مادي برخه دبهرنيو او کورنيو جنايتکارانو تر ضربي لاندي راغلي ده ، بلکه افغان  معنوي فرهنګ هم بې ساري ضربي خوړلي ده  ۰ ددموکراسي ، دښځواو په مجموع کي دبشري  حقونود تبليغ  ترنامه لاندي په هيواد کي پينځوس ټلويزونونه اوتر (۱۵۰ ) ډيري راډيو ګاني فعاليت کوي ۰ چې اکثريت يي  دبهرنيواستخباراتي شبکوله خواه تمويل او مخ ته ځي ۰ چې په اکثرو ټلويزيني ادارو

کي بهرنیان کار کوي ۰ چی ددې جمعي رسنیود بصري او سمعي فعالیتونو په پایله کي افغان کورني دسختو ګواښونو سره مخامخ کړي ، او ډیرو پیغلو او ځوانانو خپل کورونه پریښي او تللي دي ۰ چی والدین یي په جنجالونو کي پریښي دي ۰ او هم دارنګه دښځو دحقوقو تر نامه لاندي یي ډیري کورني سره جلا کړي دي ۰ او هم دارنګه هغه کسان چی ځانونه دجهاد ستر مشران بولي ، نن ددوي تر ږیرو لاندي بد لمني ( فحشاء ) خپل اوج ته رسیدلي ، او دکابل په ځینو سیمو کي داسلام د مقدس دین پر ضد پټي کلیساوي جوړي سوي ، چی دځینو افغانانو د اقتصادي ستونځو څخه په ناوړه استفاده هغوي وعیسوي مذهب ته هڅوي او بیا اقتصادي آسانتیاوي ورته برابره وي ۰ دلیکني په وروستي برخه کي باید ووایو چی ، که امنیتي تړون لاس لیک سي دولس پورتني ستونځي به څو چنده ، دملت دلاس څخه به ملي شتمني اخستل سوي ،دیو څو کورنیو او بهرنیو جنایتکارانو ولاس ته لویدلي، او پر یرغمل ولس باندي به خپل غیر مشروع حاکمیت مخ ته وړي ۰ تمت بالخیر

۱ـ ۳ ـ ۲۰۱۴